اسرار الافاغنه

1580ء

لیکونکی

حسین زوی د صابر زوی دخضر

اردو ترجمه او پېژندګلو

Ketabton.com

سعود الحسن خان روهیله

پښتو ترجمه

ډاکټر محمد زبیر حسرت

خوروونکي

د ادبي دوستانو مرکه مردان

پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول حقونه محفوظ دي

ضابطه

لیکونکے

حسېن زوے دَ صابر زوے دَ حضر

اردو ترجمه او پېژندګلو

سعودالحسن خان روهیله

پښتو ترجمه

ډاکټر محمد زبېر حسرت

کمپوزنګ اينډ ډيزائننګ

قاري ادریس خان/ حیات روغانے

خوروونکي

د ادبي دوستانو مرکه، مردان

وړومبے چاپ اکتوبر 2014ء

د چاپ ځاے

عامر پرنټرز اينډ پبلشرز، جنګي محله، پېښور

قیمت 50 روپۍ

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتساب

د سعود الحسن روهیله په نوم
چې دا تاریخي دستاویز یې د پښتنو د پاره
محفوظ کړے دے

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوغات

د مستشرقينو او پښتنو محققينو

سپېڅلو روحونو ته

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

Pukhto.Net پښتو

سینګار

1. پېژندګلو 6
2. د تصنیف، تلخیص او ترجمې زمانه 9
3. نسخه 10
4. د کتاب اهمیت او خاصیت 10
5. د "اسرار الافاغنه" په حقله د خط ترجمه 14
6. "اسرار الافاغنه" 16
7. د صدر حاشیه 22
8. د زړۀ خبره 23

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیژندګلو

دَ پښتنو افغانانو پهٔ حسب نسب پهٔ مینځنۍ دوره کښې ځینې کتابونه لیکلي شوي دي. دښو کښې زیات مشهور "مخزن افغاني" (1662ء) دے چې دَ پښتنو دَ نیکونو او دَ دوي دَ قبائیلي وېش پهٔ حقله پکښې تفصیلي بحث شوے دے. دې پسې دَ حافظ رحمت خان "خلاصةُ الانساب" (1761ء) دے چې دَ مخزن افغاني نه تقریباً 160 کاله پس لیکلے شوے دے. پهٔ مخزن اکثر دا اعتراض کېږي چې هغه یو درباري مؤرخ لیکلے دے چې دَ مغلو دَ طنز نه دَ بچ کېدو پهٔ غرض دَ افغانانو لپاره دَ بني اسرائیل کېدو نظریه وړاندې کوي. نور کوم کتابونه چې پهٔ دغه دور کښې لیکلي شوي دي مثلاً "تاریخِ شېر شاهي" او "واقعات مشتاقي" یعني "تاریخ داودي". پهٔ دښو کښې دَ افغانانو دَ بني اسرائیل کېدو متعلق هېڅ خبره نشته. دَ مخزن نه وړاندې یو بل تصنیف "تواریخ دولت شېر شاهي" (1548ء) کښې هم افغانانو ته بني اسرائیل وئیلي شوي دي. دا دَ 1548ء تصنیف دے چې دَ شېر شاه یو امیر ته منسوب دے.

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ شيخ قاسم دَ پلار شيخ قدم دَ ترهٔ زوي شيخ اکا ابن شيخ طاهر دَ همايون بادشاه هم عصر وهٔ. دا شان شيخ قدم هم دَ همايون بادشاه معاصر ښکاري او شيخ قاسم دَ اکبر بادشاه ــ دَ مخزن يوه نسخه کښې دَ شيخ قاسم دَ ولادت کال 956 ھ/ 1549ء او دَ وفات کال 1016ھ/ 1607ء درج دے.

پهٔ شيخ قاسم دَ دومره اوږد بحث نه مقصد دا دے چې دَ حسبن ابن صابر دور دَ 1550ء نه تر 1600ء تر مينځه وهٔ او حسبن دا کتاب هم دې دوران کښې ليکلے دے. دَ حسبن دَ وفات پهٔ حقله مونږ ته څهٔ علم نشته البته مستقل سکونت يې پهٔ هندوستان کښې وهٔ.

دَ حسبن دا کتاب پښتو ژبه کښې وهٔ او مولوي خيرالدين نومې يو سړي يې فارسۍ کښې ترجمه کړي ده چې عام هندوستانيان ترې فائده پورته کړي. دَ مولوي خيرالدين پهٔ حقله هم څهٔ معلومات نشته البته دومره اندازه کېږي چې هغهٔ پهٔ پښتو او فارسۍ دواړو ژبو پوهېدهٔ او دَ "مولوي" تکے يې دَ مذهب سره دَ تړون ښکندونه کوي. شائد دَ اصل ليکونکي حسبن پهٔ شان هغه هم دَ پښتنو لهٔ نسله وهٔ.

هنري ونسيټارټ (Henry Vansittart) چې دَ دې فارسۍ تلخيص يې انګريزۍ ته اړولے دے. پهٔ 3 جون 1732ء کښې پهٔ لندن کښې پېدا شوے وهٔ. دَ ريډنګ سکول او ونچسټر کالج نه يې تعليم حاصل کړے وهٔ. بيا يې پهٔ مبدمبنهم کښې صرف دَ 13 کالو پهٔ عمر کښې دَ ايسټ انډيا کمپنۍ ملازمت کښې داخل شهٔ او فوبټ سينټ ډبوډ ډ پاره لاړهٔ او پهٔ 1760ء کښې يې دَ فورټ وليم دَ ګورنر پهٔ حېثيت او دَ انډيا کونسل دَ صدر پهٔ طور بنګال هندوستان کښې تقرري وشوه. بنګال کښې دَ مير جعفر پهٔ ځاے دَ مير قاسم صوبېدار مقررول هم دَ دهٔ کارنامه وه. دې دوران کښې دَ کمپنۍ او مير قاسم تعلقات خراب شول او هنري استعفي ورکړه. پهٔ 1764ء کښې انګلستان ته ستون شهٔ. پهٔ 1769ء کښې يې هم دَ دې کمپنۍ ډائريکټر وټاکلو او هندوستان ته يې راواستولو. لهٔ دې وړاندې يې حالات غېر يقيني دي. دَ

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینو خیال دے چې هغه په 1770-1771ء کښې هندوستان ته راتلو په وخت جهاز کښې غرق شوے دے.

(Encyclopaedia Britannica 1968,vol_22,p_ 978.

خو د نظر لاندې تصنیف نه پته لګي چې هغه تر 1784ء ژوندے وه ځنګه چې دې کتاب کښې د شامل خط نه ښکاري چې هغه ډیره موده بلکې تر 1784ء پورې په کلکته کښې وو. خو 1787ء کښې د خپل دغه لیک په رساله Asiatic Research کښې شائع کېدو نه مخکښې په حق ورسیدهٔ ځکه چې دغه وخت یې د هغهٔ د نامې سره د ولیم جونز "مرحوم" تکے استعمال کړے دے. 1770ء یا 1771ء کښې د هنري وفات غیر یقیني دے ځکه چې هغهٔ د دې کتاب په اخره کښې حافظ رحمت خان د پاره "مرحوم" لیکلے دے چې په اپریل 1774ء کښې شهید شوے وهٔ. هنري د علم او ادب سره مینه لرله چې ثبوت یې د "اسرار الافاغنه" د فارسۍ نه انګریزۍ کښې ترجمه کول دي. د دې نه څرګندېږي چې هغهٔ په فارسۍ هم ښهٔ پوره عبور لرلو.

د تصنیف، تلخیص او ترجمې زمانه:

هنري ونسیټارټ تلخیص شوے متن انګریزۍ کښې ترجمه کړهٔ او په 3 مارچ 1784ء کښې یې لهٔ کلکتې لندن ته ولېږهٔ. لهٔ دې څرګندېږي چې انګریزي ترجمه په 1784ء کښې په کلکته کښې شوې ده. د دې کتاب فارسۍ کښې د ترجمې او تلخیص څهٔ پته نهٔ لګي. د هنري وېنا ده چې هغهٔ ته د فارسۍ دا تلخیص څهٔ موده وړاندې په لاس ورغلے وهٔ ځکه نو ښکاره ده چې دا تلخیص د هغهٔ په ایماء نهٔ دے شوے ګنه هغهٔ به دا ضرور وئیل چې دا تلخیص هغهٔ کړے دے. بل په هغه دور کښې به انګرېزانو افسرانو اردو کښې ترجمې کولې. شاید دا تلخیص مولوي خیرالدین روهیلکنډ د حکمران (نواب) حافظ رحمت خان (شهید) په دور کښې کړے وي ځنګه چې یې لهٔ کردار ښکاره ده. چې هغوي به د دا قسمه کارونو ډېره حوصله افزایي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوله. دا کتاب پښتو کښې کله لیکلے شوے دے، دا نۀ ده څرګنده خو دې کښې د عادل شاه سوري د حکمران کېدو ذکر دے نو ځکه خیال دے چې دا به د هغۀ د وفات 1550ء نه وروستو لیکلے شوے وي خو د دې لیکونکے حسین چونکې د شیخ قاسم 1549ء (پېدایش) مرید وۀ نو ځکه د شیخ قاسم تر ځوانۍ به انتظار کول وي یعنې هاغه وخت کله چې شیخ قاسم د دې قابل شي چې نور د ځان مریدان کړي او زما د اندازې مطابق دا سن 1580ء یا 1585ء پکار دے.

نسخه:

زما د علم مطابق د دې تصنیف اصل پښتو نسخه لا نۀ ده ترلاسه شوې. شاید پۀ کلکته، برټش میوزیم (لایبرېري لندن) یا بل کوم ځاے موجوده وي. د فارسي تخلیص شوې نسخه یقیناً چې د ایسټ انډیا کمپنۍ افسرانو سره وه چې اوس د هغې هم پته نۀ لګي چې چرته ده؟ خو د انګرېزي ترجمه چې پۀ 1784ء کښې شوې وه، هغه پۀ 1787ء کښې ایشیاټک سوسایټۍ نه شایع شوه او پۀ 1801ء پۀ لندن کښې د ایشاټک ریسرچز دوېم جلد کښې پۀ دوېم ځل پۀ 76-67 صفحو بیا چاپ شوه. دا ترجمه مې لۀ هغې کړې او اصل انګرېزي متن مې ورسره منسلک کړے دے.

د کتاب اهمیت او خاصیت:

دا کتاب پۀ ځینو حوالو د اهمیت وړ دے:

1. دا کتاب د نورو اکثرو افغان تاریخونو پۀ شان هندوستان کښې لیکلے شوے دے او دې لورې ته اشاره کوي چې پۀ پښتنو کښې د تمدن تر اثره تاریخي شعور څنګه وده موندله؟

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. دا کتاب د خپلو معاصرو افغان تاریخونو نه برعکس د فارسۍ په ځای پښتو کښې لیکلے شوے دے چې د دې خبرې اندازه ترې کېږي چې د افغانانو د حکومت د خاتمې نه پس نه هم پښتو ژبه د هغوي تر مینځه رائج وه. نور تاریخونه دربارونو سره تړلو خلقو لیکلي دي، "اسرار الافاغنه" یو عام سړي لیکلے دے چې د دې خبرې غمازي کوي چې د هندوستاني پښتنو په اولسي حلقو کښې پښتو ژبه د څو پشتو نه پس بیا هم ژوندۍ ژبه وه.

3. دې کتاب کښې ټول زور د افغانانو په نسب ورکړے شوے دے او ډېر معلومات یې زړۀ راکښون لري، ځکه چې یو عام پښتون د اولس د خلو عام روایتونه قلم ته سپارلي او دا یې وئیلي دي چې هاغه دور کښې عام پښتون اولس کښې د خپل اصلیت او خپل نسل باره کښې څۀ روایت وۀ.

4. بله یوه خاص خبره چې لۀ کتابه ځرګندېږي، هغه دا ده چې دۀ د قېس عبدالرشید نسبت د خالد بن ولید د افغانانو د مورثِ اعلیٰ کېدو باندې زیات زور راوړے دے او قېس پکښې هم نۀ دے نظر انداز شوے. "مخزن" (مخزن افغاني تاریخ خان جهان لودهي) کښې هم دا حوالې موندې کېږي چې ډېرې قبیلې په دې خبره زور راوړي چې مونږ د خالد لۀ اولاده یو.

5. د افغانانو په روایت کښې چې د پښتنو وفد له د نبي کریمﷺ لۀ خوا د عصا د عطا کېدو کومه تذکره ده، هغه په مخزن کښې نۀ ده درج بلکې صرف په عربي تذکرو کښې ده او د اخون درویزه د کتاب (تذکرة الابرار و الاشرار ـ مترجم) نه علاوه صرف هم دې کتاب کښې ده. د دې نه پته لګي چې د لیکونکي دروه نه هند ته د راتلو ډېره موده نۀ وه شوې او هغه په خپل ولایت کښې د رائجو روایاتو نه بنۀ اګاه وۀ.

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

6. دې کښې چې د "پټهان" تکي کومه تشريح شوې ده، هغه زياته عقلي ده. د فرشته بيان چې (د افغانانو په پټنه کښې د ابادکارۍ له وجې پټهان شوے دے) او د مخزن بيان (چې د نبي کريمﷺ قبس له د ورکړے شوي خطاب "بطان" [اصل نسخه کښې "بتان" دے ــ مترجم] وران شوے شکل "پټان" او بيا "پټهان" شوے دے) ، مونږ ته غېر سائنسي ښکاري.

7. هنري د ترجمې شورو نبغ په نبغه د افغانانو د بني اسرائيل کېدو نه کړې ده او د فارسۍ د تلخيص د هغې حصې ترجمه يې نۀ ده کړې چې پکښې د اصل کتاب د ليکونکي او مترجم نامه ده.

8. د پښتنو په خپله په څلورو ډلو کښې د تقسيم د کومې منصوبه بندۍ بيان چې دې کښې شوے دے، له هغې ځينې څرګندېږي چې د افغانانو د قوميت تشکيل د محمود غزنوي په دور کښې شوے وۀ. له دې تقسيمه مونږ ته دا پته هم لګي چې د افغان قوميت بنياد په نسل وۀ. په نني دور کښې چې د افغان قوميت بنياد په ژبه ږدي، د غور وړ خبره ده.

9. کتاب کښې د افغانانو تاريخي کردار څرګند کړے شوے دے چې مونږ ته تر په شپاړسمه صدۍ کښې په افغانانو کښې د سياسي بېدارۍ د شعور اندازه کېږي.

10. د دې کتاب نوم فارسۍ يا پښتو کښې د "اسرارِ افاغنه" په ځاے په عربۍ کښې "اسرار الافاغنه" دے چې ډېر معني خېز دے.

11. د ايشياټک ريسرچ سوسايټۍ صدر وليم جونز چې په دې تحرير کومه حاشيه کښلې ده، هغې کښې د "عذد راس" يا "عذرا" نبي حواله ورکولو کښې وئيلي شوي دي چې د بني اسرائيلو لس ورکې قبيلې اول خو غلامې او بيا د ايران مغربي حصو کښې ابادې کړې شوې. وروستو دغه خلق د اوږد سفر کولو نه پس بل ملک ته لاړل او دغه

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملک "هزاره جات" (موجوده افغانستان) دے چې عذرا نبي يې نامه "ازرارات" ليکلې ده. دا بيان د عبراني بائبل د کتاب دوهم عذد راس، باب 13، آيت 45 کښې درج دے، البته د وليم جونز په دې نوټ الفنسټن تنقيد کړے دے.

د دې کتاب په مندرجاتو کښې څومره صداقت دے؟ ـــ د دې د جاج اخستو د پاره ځان له بحث پکار دے ولې چې دا تلخيص شوے کتاب دومره مختصر دے چې ټولې خبرې پکښې ډېرې سرسري شوې دي. دا د افغانانو د بني اسرائيل کېدو په نظريه بحث کوي چې مونږ به پرې چرته ځان له کتاب کښې تفصيلي بحث کوو.

سعود الحسن روهيله

9 جنوري 2007ء

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

د "اسرارالافغنه" په حقله د خط ترجمه:

مکتوب له طرفه د عزت مآب هنري ونسیتارټ مرحوم په نامه د صدر ښاغلیه!

څه موده وړاندې ما ته "اسرار الافاغنه" یا د افغانانو رازونه فارسي تلخیص په لاس راغے چې مولوي خیر الدین تیار کړے دے. اصل کتاب پښتو ژبه کښې حسین بن صابر بن خضر لیکلے دے چې د حضرت شاه قاسم سلیماني مرید وه او د دې زیرک مزار په چنارګړه کښې دے. زما شوق پیدا شه چې د دې (خلاصې) ترجمه وکړم. اګرچې د دې شروع د دې قبیلې نسب بیخي د غیر یقیني بیا نه کیږي او یوه داسې قیصه پکښې بیان شوې ده چې په هیڅ جوړ له هم ممکن او سنجیده تاریخ نه شي ګرځیدے. بیا هم زما خیال دے چې کله هم یو قوم د خپل اصل باره کښې څه معلومه شوې خبره بیانوي نو دا څیز داسې معاشرې لره د دلچسپې باعث وي او دا پته ترې هم لګي چې هغوي حقیقتاً له کومه نسله دي. بې شکه د هر قوم د تاریخ ابتداء هم افسانوي وي او کله چې له هر چا د زیات روشن خیال قومونه د تهذیب او اهمیت هاغه درجې ته ورسي چې هغوي ته پکښې د خپلو کارنامو د یادولو نغوته کیږي او هغوي د دې د یادولو جوګه کیږي هم نو هغوي ته همیشه خپله ابتداء کښې هم داسې څیزونه په لاس ورځي چې د هغې ایجاد یا تصور ډیر ښه او ښکلے وي. داسې افسانې په اول کښې خو د روایاتو په شکل کښې مخې ته راځي او بیا په هم دغه شکل کښې هغه د راتلونکو نسلونو د پاره د خپل قوم د دروغژن شان و شوکت ذریعه وګرځي، هغوي بې په لیک کښې راولي او داسې ورته د تاریخ درجه حاصلیږي.

چونکې هر سلطنت د خپلو عناصرو مجموعه وي چې په خپله د انفرادي اتحادونو نه د مجموعي اتحاد په درجه کښې کثیف شوي وي، ځکه نو تاریخ د هغو معاملاتو مجموعه ده چې نه صرف مختلفو قبیلو سره تعلق

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري بلکې د يو قوم د افرادو سره هم متعلق وي چې دا تاريخ پرې بحث کوي. دا شان هره خاصه واقعه د يو څيز خلاصه وي او داسې هغه نيمګړې هم وي، څکه نو د دې قبيلو سره متعلق د ژوند حالات، طور طريقې، کارنامې بلکې د راېو بيانونه هم چې د يو عظيم سلطنت سره علاقه لري، هغه نۀ صرف خپله زړۀ راکښون لري، بلکې ډېر ګټه ور هم وي ولې چې هغه د دغې قوم پۀ تاريخ رڼا اچوي او د هغې وضاحت کوي.

د دې احساساتو پۀ تابع کښې زۀ د سوسايټۍ پۀ خدمت کښې د "افغانانو" د دې تلخيص شوي تاريخ د ترجمې جسارت کوم. دا يوه داسې قبيله ده چې پۀ مختلفو وختونو کښې هميشه راهسې د "فارس" او "هندوستان" سلطنتونو سره ترلې پاتې شوې ده. زۀ د دوي د ژبې يوه نمونه هم وړاندې کوم چې "پښتو" ورته وايي خو فارسۍ کښې دا تکے "پشتو" وئيلے شي.

ښاغليه! زۀ پۀ ډېر احترام سره ستاسو لۀ ټولو زيات فرمانبردار او کم تر ملازم يم.

هنري ونسيټارټ

کلکته، 3 مارچ 1784ء

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب متن

اسرارالافاغنه

د افغانانو د یهودیانو لهٔ نسله کېدل

افغانان د خپلو روایاتو مطابق د ملک طالوت (ساول بادشاه) لهٔ باقیاتو څخه دي چې د ځینو د روایت تر مخه د یهودا ابنِ یعقوب لهٔ نسله دي او د ځینو نورو د روایتونو تر مخه د یوسف د وررور بن یامین لهٔ نسله دي.

د بني اسرائیلو او عمالیقیانو تر مینځه جنګ کښې عمالیقیان بریالي شو او هغوي یهودیان تباه او برباد کړل او تابوتِ سکینه یې هم یوړهٔ. دا تابوت هغوي د یهودیانو د دېوتا پهٔ خیال اور ته ګوزار کړهٔ خو اور ورته څهٔ خېپت و نهٔ رساوهٔ. بیا یې پهٔ تبرونو ماتولو خو پهٔ هغې کښې هم کامیاب نهٔ شو. کوم سړي هم چې د دې بې حرمتي وکړه، هغهٔ ته د خپل ناوړي حرکت سزا ملاو شوه. بیا یې پهٔ خپله عبادت ګاه کښې کېښوهٔ خو د هغوي ټولو دېوتاګانو ورته سجده وکړه. اخر یې پهٔ یوه غوا کېښوهٔ چې ځنګل ته یې وشړله.

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې اشموئیل نبي پاخېدهٔ نو بني اسرائیلو ورته ووې چې "مونږ پهٔ مکمله توګه د عمالیقیانو تابع شوي یو او زمونږ څوک بادشاه نشته. مونږ له یو بادشاه وټاکه چې د خداے د عظمت د پاره د جنګ جوګه وي."

اشموئیل وپوښتل چې "کهٔ تاسو جنګ له بوتللے شوئ نو جنګ کولو ته به تیار یئ؟" هغوي جواب ورکړهٔ "پهٔ مونږ څهٔ چرق نازل شوے دے چې کافرانو سره به نهٔ شو جنګېدے؟ دې قوم خو مونږ لهٔ خپل وطنه او اولاده جدا کړي یو."

پهٔ دې جبرائیل فرښته راغله او د یوې معجزانه عصا ورکولو پهٔ وخت یې ورته ووې،

"دا د خداے حکم دے چې د کوم سړي قد د دې عصا برابر وي نو هغه به د اسرائیل بادشاه وي."

ملک طالوت هاغه غریب سړے وهٔ چې د خلقو ګډې بزې (او غواګانې) به یې څرولې. یوه ورځ ترې اتفاقاً د چا غوا ورکه شوه. د هغې پهٔ لټون کښې د ناکامۍ لهٔ وجې سخت مایوسه شهٔ او اشموئیل ته یې خواست وکړهٔ چې "زما یوه غوا ورکه شوې ده او ما سره د هغې د مالک د مطمئن کولو هیڅ طریقه نشته. ما ته دعا وکړه چې دا ګرانه راباندې اسانه شي."

اشموئیل اندازه وکړه چې د هغهٔ قد ډېر دنګ دے، د نامې پوښتنه یې ترې وکړه. هغهٔ جواب ورکړهٔ "طالوت" ـــ

اشموئیل ورته ووې "طالوته! دا عصا ځان پورې ونیسه چې جبرائیل فرښتې رالېږلې ده."

د هغهٔ قد بیخي د عصا برابر وهٔ. بیا اشموئیل ووې "خداے طالوت ستاسو بادشاه دے."

بني اسرائیل جواب ورکړهٔ "مونږ د خپل بادشاه نه ډېر عظیم یو، مونږ د عزت خاوندان یو او هغه خو یو غریب سړے دے، زمونږ بادشاه څنګه کېدے شي؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشموئیل ورته ووې "هغوي ته دې دا معلومه وي چې خدای د طالوت د هغوي بادشاه کړی دی او هغه به تابوتِ سکینه بیرته راوړي."
داسې هغهٔ (طالوت) تابوتِ سکینه بیرته راوړهٔ او هغوي خپل حکمران ومنلو.

کله چې طالوت ته سلطنت ملاو شهٔ نو هغهٔ د جالوت یا ګولیتهـ پهٔ علاقو قبضه وکړه. هغهٔ (جالوت) یو لوي فوځ تیار کړهٔ خو هغه د داود لهٔ لاسه ووژلے شهٔ. وروستو طالوت کافرانو سره پهٔ یو جنګ کښې شهید شهٔ او خدای داود د یهودیانو بادشاه کړهٔ.
د ملک طالوت دوه زامن و، د یو نوم "برکیا" او د بل نامه "ارمیا" وه چې د داود ملازمت یې کړے وهٔ او هغهٔ به دوي سره ډېره مینه کوله. هغهٔ دواړه کافرانو سره جنګ له ولېږل او د خدای پهٔ فضل دواړه کامیاب شول.
د برکیا زوی "افغان" وهٔ او د ارمیا زوی "اصبک" وهٔ. دا دواړه ځوانان د داود پهٔ عهد کښې لهٔ ټولو ممتاز وو او دواړه سلیمان پهٔ خپل ملازمت کښې واخستل. د افغان امتیاز دا وهٔ چې جسماني طاقت یې دومره زیات وهٔ چې د دېوانو او پېریانو پهٔ زړونو به یې هم هیبت راوستهٔ او اصبک د خپل علم پهٔ وجه ممتاز وهٔ.
افغان به اکثر پهٔ غرونو ګرځېدهٔ چرته چې د هغهٔ د وفات نه پس د هغهٔ اولاد ځان مستحکم کړهٔ. هغوي به ازاد ګرځېدل، ځان له یې قلاګانې جوړې کړې او کافران یې ختم کړل.
کله چې د مخلوقاتو منتخب حضرت محمدﷺ مبعوث شهٔ نو شهرت یې افغانانو ته هم راورسېدهٔ چې د خپلو سردارانو خالد او عبدالرشید (د ولید زامن) پهٔ مشرۍ کښې د یوې ډلې پهٔ شکل کښې ورغلل. نبي کریمﷺ یې شاندار استقبال وکړهٔ او وې فرمائیل "راځئ بادشاهانو یا ملوکانو!" ـــ لهٔ هغې پس دې خلقو ته د "ملک" خطاب ورکړے شهٔ چې تر اوسه پرې نازېږي.
نبي کریمﷺ دوي له خپل عَلَم ورکړهٔ او وې فرمائیل چې:

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

"لۀ دوي به دين ته تقويت رسي."

د خالد ډېر اولاد پېدا شۀ چې کافرانو سره يې جنګونه وکړل. د نبي کريمﷺ پۀ موجودګۍ کښې يې ځانونه څرګند کړل. حضرت محمدﷺ دوي له ډېر عزت ورکړۀ او دوي ته يې دعا وکړه.

د غزني د سلطان محمود پۀ عهد کښې د خالد بن وليد د کورنۍ اتۀ تنه سلطان له راغلل چې قالون، عالون، داود، يالوا، احمد، اوِن او غازي (دا نامې اووۀ دي ــ مترجم) نومونه يې وو. سلطان ترې ډېر خوشحاله شۀ او هر يو يې د پوځ سپه سالار کړۀ. دوي له يې وزارتونه ورکړۀ اول د وکيل مطلق يا د نايب السلطنت عهدې يې ورکړې.

دا خلق چې به چرته هم تلل، هاغه ځاے به يې قبضه کولو، جوماتونه به يې جوړول او د بتانو مندرونه به يې ورانول. دوي پۀ شمېر کښې ډېر زيات شو، دومره چې د محمود پوځ زياتره پۀ افغانانو مشتمل وۀ. کله چې هرهند د هندوستان طاقتور حکمران پۀ غزنه حمله وکړه نو سلطان محمود د هغۀ خلاق د خالد د اولاد شل زره سوارۀ واستول. د ډېر سخت جنګ نه پس افغانانو حمله وکړه او لۀ سحره تر غرمې ښۀ پۀ زره وجنګېدل، هرهند له يې ماتې ورکړه، ډېر کافران يې مړۀ او ځينې يې مسلمانان کړل.

اوس افغانانو پۀ غرونو پېښې ښخې کړې وې او ځينې د سلطان محمود پۀ اجازت پۀ ښهرونو کښې اباد شو. هغوي ځان پۀ څلورو ډلو کښې وويشلو او دا متفقه ضابطه يې جوړه کړه چې:

1. اول خالصه طبقه کښې هاغه خلق شامل دي چې پلرونو او مياندې يې دواړه افغانان وي.
2. دوېمه ډله کښې هاغه خلق شامل دي چې پلرونه يې افغانان وي خو مياندې يې لۀ نورو قامونو وي.
3. درېمه ډله هاغه ده چې مياندې يې پښتنې وي خو پلرونه يې لۀ نورو قامونو وي.

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. او څلورمه ډله د هغو ښځو په اولاد مشتمله ده چې میاندې یې پښتنې دي خو پلرونه یا خاوندان یې له نورو قومونو دي ـــ

او کوم خلق چې په دې څلورو ډلو کښې یوې سره هم تعلق نه لري، هغوي ته به "افغان" نه شي وئیلے.

د سلطان محمود د وفات نه پس هغوي په غرونو کښې سکونت اختیار کړه. وروستو چې کله د غزني یو سلطان شهاب الدین غوري دوه واره له هندوستانه ناکامه راغے نو وزیر یې خلق راجمع کړه او پوښتنه یې ترې وکړه چې د خالد په اولاد کښې څوک ژوندي شته؟

هغه ځواب کښې ووې چې ډېر پکښې غرونو کښې استوګنه لري او د ازادۍ ژوند تېروي او هلته ورسره خپل پوځ هم دے.

وزیر هغوي ته خواست وکړه چې غرونو ته ورشي او افغانان د یوې معاهدې تر مخه دلته راوستو باندې راضي کړي، ځکه چې هغوي د نبيﷺ د اصحابو له نسله دي. د غزني استوګنو یو سفارت تیار کړه او د ډېرو ډالو ټېلو سره یې د افغانانو ذهنونه جوړ کړل. افغانانو د سلطان په ملازمت کښې د داخلېدو وعده وکړه خو په دې شرط چې سلطان دې په خپله راشي او معاهده دې وکړي. سلطان ورپسې غرونو ته ورغے، ډېر قدر او عزت یې وکړه، ډېرې جامې جوړې او نورې تحفې یې ورکړې او هغوي سلطان له د دولس زره سورو نه علاوه څینې پیاده پوځ هم ورکړه چې د سلطان د پوځ د هر اول په طور یې په دهلي قبضه وکړه. راې پتورا بادشاه، د هغه وزیران او امیران یې قتل کړل، ښهر یې تباه کړه او کافران یې بندیوان کړل. وروستو یې دغه کار په قنوج کښې هم وکړه.

سلطان د دغو ښهرونو په فتح ډېر خوشحاله شه او افغانان یې په اعزازاتو ونمانځل. وئیلے شي چې له هغه وخته دوي له د "پټان" او "خان" خطابونه ورکړے شو. "پټهان" لفظ د هندۍ د فعل "پیټنا" یو دم حمله کولو نه وتے دے چې په دشمن د دوي په ډېره تېزۍ د حملو کولو کنایه ده. پښتنو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هندوستان په تاریخ کښې ځان په ډېره شانداره طریقه ممتاز کړے دے او په ډېرو ډلو کښې تقسیم شوي دي.

د افاغنه په قبضه کښې د سلېمان غر او د هغې نواحیو ملک دے چې قندهار سره دے. دلته هغوي قلاګانې جوړې کړې. په دې قبیله کښې ډېر بادشاهان تېر شوي دي. د دهلي په تخت یې دا بادشاهان پاتې شوي دي:

سلطان بهلول افغان لودهي، سلطان سکندر (لودهي)، سلطان ابراهیم (لودهي)، شېر شاه (سوري)، اسلام شاه (سوري) ـ په دې کښې د غور دا بادشاهان هم شامل دي: سلېمان شاه ګرزني، بایزید شاه او قطب شاه. له دې علاوه دې قوم مختلفو صوبو کښې ډېر فاتحین هم پېدا کړي دي.

افغانانو ته "سلېماني" هم وئیلې شي یا خو له دې وجې چې دوي د سلېمان د یهودیانو د بادشاه رعیت وو یا له دې وجې چې دوي په سلېمان غرهٔ کښې استوګن وو.

(دلته د "اسرارالافاغنه" ترجمه ختمېږي، وړاندې د هنري ونسیټارټ بیان دے)

د ترجمې ختمولو نه پس زهٔ صرف دومره اضافه کوم چې د افغانانو ملک چې د کابل یوه صوبه ده، په اصل کښې "روه" یادېږي او له دې ځنې "روهیله" لفظ وتلے دے. دې کښې چې افغانانو کوم ښهر جوړ کړے دے، هغې ته "پېښور" یا "پشاور" وایي او اوس پوره د یوې ضلعې نامه ده. د "پټهانانو" یا "افغانانو" ډلې ډېرې زیاتې دي، دېو کښې خاص دا دي:

لودي، لوهاني، سور، سرواني، یوسفزي، بنګښ، دلازاک، خټک، یاسین، خلیل او بلوچي.

د "زي" مطلب اولاد او د "خېل" مطلب ډله ده. د افغانانو یوه خاص تذکره مرحوم حافظ رحمت خان لیکلې ده چې د روهیلیو یو سردار وهٔ، شوقین قارئین ترې نور معلومات حاصلولے شي. هغوي مسلمانان دي، څهٔ سنیان دي او ځنې د شیعه عقیدې سره تړلي دي. هغوي د خپلې قبیلې د شهرت او د خپل نسب په قدامت ډېر زیات ویاړي خو نور مسلمانان د دوي دعوې رد

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي او دوي کوم نوے یا کم تره نسل گڼي، البته د تاریخ نه یې د کردار جاج اخستے شي. هغوي په خپله بهادرۍ خپل ځان انفرادي طور هم او اجتماعي طور هم د بادشاهانو په طور هم او د مددګار په طور هم ممتاز کړے دے. هغوي خپلو شهزادګانو له هم فتوحات کړي دي او غیر ملکیانو لره هم او همېشه د هغه پوځ بنیادي قوت ګڼلے شي چې دوي پکښې ملازمت کوي. دوي کښې څهٔ خوبۍ او څنې خامۍ هم دي. څنې وخت غداري هم کوي، بلکې د یوې کم ترې درجې د قاتل کردار هم ادا کوي.

د صدر حاشیه:

د افغانانو دا تاریخ د یو اهم دریافت په لوري ځي. مونږ په "عذد راس" کښې دا لولو چې لس قبیلې د یو اورد بیاباني سفر نه پس یو داسې ملک ته راغلې چې "ارضارات" نومېږي، چرته چې زمونږ په خیال اباد شوي دي. اوس د افغانانو په باره کښې غوره فارسي مؤرخین دا وئیلے شي چې هغوي د یهودیانو لهٔ نسله دي. د دوي تر مینځه خپلو کښې هم دا روایت موجود دے او په دې هم زور راوړے شي چې د دوي خاندانونه د یهودیانو قبیائیلو په نامو پېژندے شي، حالانکې د اسلام راوړو نه پس ته یې د خپل اصلیت د پټولو ډېره هڅه وکړه.

پښتو ژبه، چې یو لغت یې ما سره دے، کالیدي ژبې سره ډېر مماثلت لري او د دوي په قبضه کښې یوې لویې ضلعې ته هزاره یا هزارات وئیلې شي چې په ډېره اسانۍ په هغه لفظ کښې بدلېدے شي چې "عذد راس" استعمال کړے دے. زهٔ د افغانانو د تاریخ او ادب په باره کښې د تحقیق زوردار سفارش کوم.

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

باسمه تعالیٰ

Pukhto.Net

د زړهٔ خبره

پښتانهٔ څوک دي؟ د دوي تاتوبي کوم کوم پاتې شوي دي؟ لهٔ کومې راغلي دي او چرته مېشته شوي دي؟ ـــــ

د دې سوالونو پهٔ جوابونو کښې ګڼو بهرنيو او خپلو کورنيو محققينو څېړنې کړې دي. چا يهوديان (بني اسرائيل) ګڼلي دي، چا يونانيان، چا آرين او چا پښتانهٔ هم پښتانهٔ ګڼلي دي. هر چا خپلې نظريې قابلِ قبول جوړولو د پاره د موجودو شهادتونو نه پاره اوازونه او جوازونه تراشلي دي. د "وېد" پکهت، پخت، پشت، "اوستا" کښې بخد، بخت او پشت او دا شان د يونان مؤرخينو او جغرافيه دانو پښتنو ته "پکهتين" يا "پکهتويس" او د دوي تاتوبي ته "پکتيکا" او "پکتيکاس" ليکلي دي او قريب قريب ټولو مستشرقينو پهٔ علمي او سائنسي بنياد د تحقيق نه پس دا منلې ده چې پښتانهٔ د وېد "پکهت" او د يوناني تاريخ "پکهتويس" دي او دا قبيله 1400 قبل مسيح زړه ده چې پهٔ بلخ، باختر کښې بې استوګنه کوله. هېرودوټس

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله زمانه 484 ق.م کښې د پښتنو نامه "پکهتين" ليکلې ده چې د اباسين او امو په غاړو څنډو اباد وو او د فارس، هند او چين د زورورو تهذيبونو مينځ کښې يې خپل وجود او تهذيب ژوندے ساتلے دے. بطليموس دوي په "پکهتين" او "پکهتان" ياد کړي دي. دۀ او سکايي لاکس خپله سفرنامه کښې د دوي سيمه "اريا" او "اريانه ويجا" په نامه ياده کړې ده. ډېرو محققينو کښې د ځينو نامې ډېرې واضحې دي مثلاً پروفېسر کلاپروتهه، پروفېسر برنارډ ډورن، الفنسټن، مېجر راورټي، هنري والټربېليو، ډاکټر ټرومپ او وليم هنري پښتانۀ د ژبې د تحقيقاتو په بنياد، چې دا د ژند. اوستا او سنسکرت سره ډېره نزدې ده، "انډو ارين" ژبه ده، ځکه نو پښتانۀ هم په دغه اره ارين دي. د خپلو تحقيقونو په بنياد ځينو مؤرخينو او محققينو د پښتنو/ افغانانو د وجود او تهذيب عمر 1900 ق.م ته رسېدلے منلے دے.

دلته پښتونخوا کښې زمونږ د ژبې او ادب عالمانو او مؤرخينو لکه قاضي عطاء الله، مولانا عبدالقادر، سيد بهادر شاه ظفر کاکاخېل، روشن خان، دوست محمد خان کامل مومند، حسېن بخش کوثر غورياخېل، غني خان، اجمل خټک او سعدالله جان برق او نورو خپلو ليکلو تاريخونو او ځينې ادبي کتابونو کښې چا بني اسرائيل او چا بيا ارين ګڼلي دي.

د افغانستان عالمانو کښې پروفېسر عبدالحی حبيبي، احمد علي کهزاد، حبيب الله تږي، صديق الله رښتين او ځينو نورو پښتانۀ ارين ياد کړي دي او د دوي د پښتو ژبې رګ و رېښې يې د پخوانيو ژبو او کتابونو ژند، پاژند، اوستا او د سنسکرت په اړه اوستا، سنسکرت او هندۍ سره تړلي دي ځکه نو زيات تره محققين هم په دې خبره يوه خلۀ دي چې پښتانۀ ارين دي کۀ دلته پښتونخوا کښې دي کۀ افغانستان کښې، کۀ جنوبي پښتونخوا کښې او کۀ د وطن دننه په نورو صوبو کښې يا د وطن نه بهر په نورو وطنونو اباد دي ــ البته پرېشان خټک صاحب وايي چې پښتانۀ پښتانۀ دي او کۀ

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ خپل کلاسيک ادب ته رجوع کوو او خوشحال بابا راخلو نو هغه يې د يعقوب د قوم او ټبر نه ګڼي:

پهٔ ښايست باندې يې ختمه دا وېنا ده
چې پهٔ اصل د يعقوب قوم و تبار دي

زمونږ استاد محترم قلندر مومند به دا خبره کوله چې تاريخ هسې هم افسانوي وي او لهٔ ځانه پکښې ډېرې قيصې قطارې راجوړې شوې وي نو پهٔ ځاے د دې چې مونږ خپلې رګ رېښې پهٔ لادينو خلقو پورې تړو، ولې دې ځان د پېغمبرانو پهٔ اولاد کښې شمار نهٔ کړو. د هغوي خپل نظر پهٔ خپل ځاے خو تحقيق پاځۀ دلايل او سندونه او ثبوتونه غواړي او کومو محققينو چې پۀ دې کښې خپل ځانونه کړولي دي، کلونه کلونه يې خپلو تحقيقي منصوبو ته دوام ورکړے دے. هغوي پۀ دې نتيجه رسېدلي دي چې پښتانۀ آريا دي.

د سعود الحسن روهيله دغه اردو ترجمه د هنري ونسيټارټ د انګرېزي تلخيص نه شوې ده خو د حسين ابن صابر ابن خضر نوم سره تړلې د "اسرار الافاغنه" اصل مسوده ناپېد ده. پۀ ځينو حوالو "اسرار الافاغنه" د اهميت وړ دے چې "د کتاب اهميت او خاصيت" تر عنوان لاندې يې ذکر شوے دے. دلته زۀ دې کتاب کښې د وړاندې شوې نظريې بادي النظر، د يو اهم تاريخي دستاوېز پۀ حېث د پښتون تاريخ د طالب عالمانو د پاره د محفوظ کولو کوشش کوم.

ډاکټر محمد زبير حسرت

ډائرېکټر پښتونخوا مطالعاتي مرکز
باچاخان پوهنتون چارسده
2014/09/30ء

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

Prof. Dr. MUHAMMAD ZUBAIR HASRAT

Curriculum Vitae

0345 930 9207
hdrzubair@ymail.com

PERSONAL

Name	Muhammad Zubair
Pen Name	Dr. Muhammad Zubair Hasrat
Father Name	Syed-ul-Konain
D/O/Birth	14 Aug' 1962
P/O/Birth	Mohalla Bari Cham, Hoti, Mardan
Marital status	Married
Address	Daudzai kandey, Tehkal payan, Peshawar

ACADEMIC QUALIFICATION

- Ph.D. in Pashto (A critical study of Qalandar Moomand) — *2008 University of Peshawar*
- M.Phil (Dost Muhammad Khan Kamil Moomand: Life & works) — *1997 University of Peshawar*
- M.A (Pashto) — *1986 University of Peshawar*
- B.A — *1984 University of Peshawar*
- F.A — *1982 BISE, Peshawar*
- SSC (Humanities Group) — *1978 BISE, Peshawar*

CAREER HISTORY

- 1985 Drawing Master — G.M.S Jalsai, Sawabi
- 1990 Lecturer in Pashto — G.D.C Lahor, Sawabi
- 1997 Assistant Professor — G.D.C Turu, Mardan
- 2008 Associate Professor — G.D.C Lahor, Sawabi
- 2008 Subject Specialist (Pashto) — Khyber Pakhtunkhwa Text Book Board, Peshawar
- 2010 Principal — G.D.C Yar Hussain, Sawabi
- 2012 Subject Specialist (Pashto) — Khyber Pakhtunkhwa Text Book Board, Peshawar
- 2013 Director Pakhtunkhwa Study Centre — Bacha Khan University, Charsadda

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

PUBLICATIONS

1.	Poetry	**Da Khyaal pa' seuree**
2.	Poetry	**Zamaa aw Staa Sandarey**
3.	Poetry	**Ghazal Zaar**
4.	Poetry	**Zjwandi Lafzuna**
5.	Biography	**Hasrat: Zjwand aw Fun**
6.	Reportage	**La' Mardana tar Mardana**
7.	Compilation	**Dr. Amin: yawa Mutaale'a**
8.	Research	**Aulasi Adabi Jirga**
9.	Research	**Da Khushal Baba Taarik Goee**
10.	Compilation	**Warbaluna che samsor shi**
11.	Research	**da Shamshad Khaasa ganrha**
12.	Research	**da Qalb-ul-Seer Shaaeri**
13.	Research	**Khushal aw Rokhaanyaan**
14.	Sketches	**Naqshoona**
15.	Criticism	**Naqsh** (A detail study of Pashto Afsaana)
16.	Translation	**Da Tahqeeq Fun**
17.	Short stories	**Qissa Khaana**
18.	Short stories	**Da Zjwandun khaarya**
19.	Poetry	**Kalaam**
20.	Poetry	**Elhaam**
21.	Poetry	**Zama Ghazaluna**
22.	Poetry	**da Gul pa' Katoree ke**
23.	Poetry	**Yaqeen**
24.	Research	**Adabi Muqaddimey Vol. I**
25.	Research	**Adabi Muqaddimey Vol. II**
26.	Research	**Adabi Muqaddimey** (Dost Muhammad Kamil Moomand)
27.	Research	**Qalandar Moomand**
28.	Research	**Qalandar Moomand** (Zindagi, Fun aur Shakhsiyat)
29.	Compilation	**da Sabawun ranrhaayee** (Qalandar Moomand)
30.	Research	**Wali Khan**: Zjwand, Shakhsiyat aw Syaasat
31.	Compilation	**Saazuna Awaazuna** (Amir Ghulam Sadiq's Filmi songs)
32.	Compilation	**Latoon** (Ghani Khan)
33.	Compilation	**Sandareez Shafaquna** (Saif-ur-Rahman Saleem)
34.	Compilation	**da Salgayo pa' Shor ke** (Khan Bahadar Hasrat)
35.	Research	**Dost Muhammad Khan Kamil Moomand**: Zjwand aw Adabi Khidmaat
36.	Research	**Etmaam-e-Hujjat**
37.	Compilation	**Seend** (Markazi Pukhto Adabi Jirga, Nowkhaar)
38.	Reportage	**Nandaarey**
39.	Reportages	**Roodaaduna** (Markazi Pukhto Adabi Jirga, Nowkhaar)
40.	Research	**Laaluna Malghalarey** (Sayings of Bacha Khan)
41.	Drama	**Khudaai Khidmatgaar** (Fazal Karim)
42.	Compilation	**Khushal Khan Khattak** (Dost Muhammad Khan Kamil Moomand)
43.	Compilation	**Rahman Baba** (Dost Muhammad Khan Kamil Moomand)
44.	Research	**da Rahman Baba Fikri Maktab**
45.	Research	**Khudaai Khidmatgaar** (Fazl-ul-Rahim Saaqi)
46.	Drama	**Dard** (Amir Nawaz Khn Jalya)
47.	Compilation	da Bacha Khan Kifaayat shu'aari (Fazl-ul-Rahim Saaqi)
48.	Compilation	**Da Sabar Jang** (Fazl-ul-Rahim Saaqi)
49.	Compilation	**Drey Qessey** (Fazl-ur-Rahim Saaqi)
50.	Research	da **QASEEDA BURDA** manzoomey aw mansoorey tarjumey
51.	Compilation	**Kalpaanrai** (Maraka Publications, Mardan)
52.	Compilation	**Maraka** (13 volumes)

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

53. Compilation **da Akhun Gadaa Muntakhibaat**
54. Research **Hamid Baba aw Dur aw Marjaan**
55. Research **Qalb-ul-Seer** (Gohar Khan Kattak)
56. Research **da Rostee Sparlee Nargas** -- Ajmal Khattak
57. Research **Pukhto aw Norey Afsaaney** – Ajmal Khattak
58. Research **da Makhzan-ul-Islam** Muqaddima
59. Research **Makhzan-ul-Islam** (Akhun Darveza)
60. Compilation **Qalandar Moomand** (Zjwand, Fun aw Shakhsiyat)
61. Research **Mast Malang Ghani Khan**
62. Compilation **Latoon pasey Latoon** (by Ghani Khan)
63. Research **Tamaashey** (Evolution of Pashto Drama, 1930-1970)
64. Translation **Asraar-ul- Afaaghina**

Articles

More than 100 research articles on different topics published in the newspapers and research journals.

Pukhto.Net
www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښتون په اصل، سړبني دے
یا غورغښتي دے، یا بیټني دے
لودي، غلجي دے، د پښتو لۀ لوره
په سړبن پورې، بیا کرلاڼي دے

خوشحال خان خټک (کلیات 736 مخ)

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوروونکي

د ادبي دوستانو مرکه مردان

پښتونخوا

2014ء

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library